# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲٦مه | د ۲۰۲۰ د مارچ ۱٦مه | ۵۳۰مه گڼه

2 017550 139621


## هېواد

۴ مخ

### هند

د دغه هېواد د ناخالص کورني تولید اندازه نږدې څلورو ټریلیونو ډالرو ته رسېږي. دغه راز د ناخالص کورني تولید کلنۍ وده یې ۷ سلنه ده، خو د سړي سرکلني عاید کچه یې څه باندې ۲۱۷۲ ډالره اټکل شوې ده.



## زهیر: روان کال له کندهاره د ۲۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت مېوې بهر ته صادرې شوې



د کندهار د سوداگرۍ خونې مشر نصرالله زهیر ویلي چې سږ کال له دغه ولایته د شاوخوا ۲۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت ۱۷۰ زره ټنه وچې او تازه مېوې صادرې شوې دي.

هغه ویلي چې روان کال له کندهاره د وچې او تازه مېوې په صادراتو کې د پام وړ ډېروالی راغلی او دغه کچه د تېر کال په پرتله لوړه شوې ده.

زهیر زیاته کړې: «یو لک او ۷۰ زره ټنه زموږ صادرات شوي چې وچه مېوه، تازه مېوه، طبعي نباتات او حبوبات چې دا ټوله شاوخوا ۲۰۰ میلیونه ډالره ارزښت لري.» د نوموړي په خبره، ښايي د روان کال تر پایه د صادراتو کچه تر ۲۰۰ زرو ټنو ورسېږي چې ارزښت به یې شاوخوا ۲۵۰ میلیونه ډالره وي.

هغه ویلي، له کندهاره د تازه میوې په صادراتو کې تر ډېره انار، انگور، او خټکي شامل دي، خو په وچه مېوه کې ممیز، انځر، بادام او په طبعي نباتاتو کې ځیره او زعفران شامل دي.

# کرونا وېروونکې گواښ؛

## د زرگونو کډوالو له راتگ سره هممهاله د کرونا مثبتې پېښې په ډېرېدو دي




### د بین الافغاني خبرو پر وړاندې خنډونه او اندېښنې

۲ مخ

### طالب- امریکا هوکړه او د ملت په نوم له سولې سره دښمنې

۲ مخ

### د افغانستان کړکېچ او د حل لارې چارې

۳ مخ

## کنسټریوم ژورنال: د امریکا پوځ او سي ای اې په افغانستان کې ډېر جنگي جنایتونه کړي

د ډونالډ ټرمپ د ادارې له مخالفتونو سره سره، د جرمونو نړیوالې محکمې تر غور وروسته د دې محکمې څارنوالانو ته په افغانستان کې د امریکا د پوځ او استخباراتي شبکې (سي ای اې) له لوري د تر سره شویو جنگي جنایتونو د څېړلو اجازه ورکړې ده. د کنسټریوم خبري ژورنال په دې تړاو په خپور کړي څېړنیز راپور کې ویلي چې د جرمونو نړیوالې محکمې په اکثریت رایو په افغانستان کې د جنگي جنایتونو څېړل تایید کړي دي.

د دغه ژورنال په یوه برخه کې راغلي: «د ۲۰۲۰ میلادي کال په مارچ میاشت کې د جرمونو نړیوالې محکمې د رایو په اکثریت پرېکړه وکړه چې د افغانستان په جگړې او ترور کې د امریکايي، افغان ځواکونو او طالبانو له لوري تر سره شوي جنگي جنایتونه او شکنجې باید په رسمي توگه وڅېړل شي.»

په دې څېړنیز راپور کې راغلي چې د جرمونو نړیواله محکمه په افغانستان کې د جگړې په ډگر کې د متحده ایالتونو د پوځ او سي ای اې له لوري تر سره شوي بشر ضد کړنو او جنگي جنایتونو ته رسېده گي کولای شي. سرچینې زیاته کړې: «د امریکا پوځ او د سي ای اې غړو په افغانستان کې د جگړې په ډگر کې جنگي جنایتونه، شکنجه، ظالمانه درملنه، ناوړه چلند، جنسي تېری او وحشت د هغو هېوادونو د وگړو پر وړاندې تر سره کړي چې د روم اساسنامې غړیتوب لري. د دې محکمې مقدماتي هیئت څارنوالانو ته اجازه ورکړې چې په افغانستان کې د ۲۰۰۳ میلادي کال د جولای له لومړۍ نېټې څخه د جنگي جنایتونو او د وسله والو نښتو پر مهال تر سره شوي جرمونه وڅېړي.»

## برېتانیا له افغانستانه خپل سلگونه سرتېري وباسي



۲ مخ

## وزارت خارجه: به هدف جلوگیری از شیوع کرونا صدور ویزهٔ افغانستان به اتباع تمام کشورها محدود شده است



مقام ها از جان باختن ده مهاجر افغان از اثر ویروس کرونا در ایران خبر داده و میگویند که به هدف جلوگیری از شیوع بیشتر این ویروس، صدور ویزهٔ افغانستان به اتباع تمام کشورها محدود شده است.

ای ویروس کرونا سه ماه قبل برای اولین بار در کشور چین شیوع کرد و اکنون به بیش از ۱۲۰ کشور جهان رسیده است. در افغانستان تا به حال شانزده تن به این بیماری مبتلا شده اند.

ولسی جرگه درپی گسترش ویروس کرونا در کشور، دیروز جلسه فوق العاده را با حضور فیروزالدین فیروز وزیر صحت عامه، مسعود اندرابی سرپرست وزارت امور داخله، سید حسین عالمی بلخ وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان، فریدون بارکزی معین وزارت سرحدات و نجیب آقا فهیم وزیر دولت در امور رسیده گی به حوادث برگزار کرد.

محمد هارون چخانسوری سرپرست وزارت امور خارجه گفت که تدابیر برای جلوگیری از شیوع این ویروس، در سطح رهبری حکومت اتخاذ شده و امکانات لازم در اختیارات ادارات ذیربط قرار گرفته است. به گفته او، بانک جهانی نیز ده میلیون دالر امریکایی را در این بخش با افغانستان کمک می کند. وی همچنان افزود که صدور ویزه به اتباع تمام کشور محدود شده است.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## دریـځ

### د بین الافغاني خبرو پر وړاندې خنډونه او اندېښنې

محمد اشرف غني د لوړې مراسمو په ورځ ژمنه کړې وه چې د مارچ په لسمه به د بین الافغاني خبرو لپاره پلاوی نهایي او اعلان کړي. دا دی د ولسمشر غني له وعدې شپږ ورځې اوښتې، خو پلاوی تر پرون ناوخته پورې هم په رسمي ډول نه و اعلان شوی. پرون ځینو رسنیو یو نوملړ خپور کړی و، خو ارگ نه وه تایید کړې چې دا به د پلاوي غړي وي. له دې سره لا هم طالب بندیان نه دي خوشې شوي او آن په دې تړاو خپور شوی فرمان هم نه دی عملي شوی او ویل شوي چې د بندیانو دوسیو ته بیا کتنه کېږي.

له کابله د بین الافغاني خبرو لپاره هڅه او اراده کمزورې ده او له دې چارې سره د حکومت چلند سوړ دی. که څه هم حکومتي چارواکي د طالبانو بریدونه یادوي او وایي چې بندیان له همدې امله نه خوشې کوي، خو ټول درک کوي چې حکومت غواړي بین الافغاني خبرې وځنډوي. که د بندیانو مسئله د طالبانو له جگړې سره تړلې وي، نو پلاوی ولې نه ټاکل کېږي؟! له یو کال راهیسې حکومت ته ویل کېږي چې باید وټاکل شي، خو حکومت پکې خنډ او ځنډ راولي. له دې په روښانه ډول معلومېږي چې حکومت غواړي دا خبرې وځنډوي. له پرون راهیسې په ځینو رسنیو کې د یو پلاوي لېست هم خپور شوی، چې که همدا پلاوی وي، نو په رښتیا هم نه یوازې دا چې په دومره ځنډ نه ارزېده، بلکې خوار کمزوری، بې تجربې او ناسم پلاوی دی. له یوه اړخه دا یو ملي او ټولمنلی پلاوی نه دی، له بله اړخه د سولې او مذاکراتو په برخه کې هم تجربه نه لري. دا وېره هم شته چې طالبان به دا پلاوی هېڅ ونه مني او خبرو ته به ورسره حاضر نه شي. په دې ډول د خبرو پیل لا ځنډېږي. د حکومتي چارواکو له خوا د خبرو په مخ کې د خنډ او ځنډ را وستلو لامل هم د درک وړ دی، ځکه چې د بین الافغاني خبرو پایله سوله ده او د سولې له پیل سره د اوسنیو چارواکو او ولسمشر واکمني ختمېږي. دوی چې له سولې سره مخامخ مخالفت نه شي کولی، غواړي داسې کارونه وکړي چې د سولې د ځنډ لامل شي او په دې سره به دوی ته د واکمنۍ د غځېدو چانس په لاس ورشي. دوی ته دا مهمه نه ده چې هره ورځ جگړه او تاوتریخوالی افغانانو ته څومره ځاني او مالي زیانونه اړوي، بلکې دوی ته یوازې خپله واکمني او د د واکمنۍ دوام مهم دي.

د بین الافغاني خبرو پیل ډېر مهم دی، باید ژر پیل شي او موږ یې ژر مثبته پایله ووینو. اوس پکار ده چې په دې برخه کې پر حکومت ولسي او سیاسي فشار زیات شي. ارگ ته باید واضح پیغام ورکړل شي چې نور د بین الافغاني خبرو پر وړاندې خنډ جوړول او د سولې مخالفت پرېږدي. که بین الافغاني خبرې پیل نه شي، د امریکا او طالبانو هوکړه نه یوازې دا چې گټوره نه ده، بلکې افغانستان لا له زیاتو او نوو ستونزو سره مخ کولی شي.

# طالب- امریکا هوکړه او د ملت په نوم له سولې سره دښمني

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

د آزادۍ غوښتونکو ملتونو او د بیا آزادۍ گټونکو غورځنگونو په تاریخ کې هغه ورځ ډېره مبارکه او بختوره وي، چې د تاریخ ژغورنې په دریځ کې یې د کلونو مبارزې، سرښیندنو او سترپا رنگ راوړي.

د ۲۰۲۰ ز کال د فبرورۍ په ۲۹مه وروسته له هغه چې طالبانو د افغان- امریکا جگړې په ډگر کې امریکا او ملاتړو ته یې یوه ملموسه ماتې ورکړه او د ۱۸ میاشتو سختو او پېچلو مذاکراتو په پایله کې د یوې داسې هوکړې پر لاسلیک بریالي شول، چې زموږ په ملي تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د جگړې او سیاست د ډگر بریا او ویاړ افغانان د یوه عظیم ملت په توگه وروسته له نیمې پېړۍ بلواکۍ، سیاسي کاواکۍ، ناخوالو، سترو او ترخو یوځای ولمانځي.

**طالب- امریکا هوکړې ته لنډه کتنه**

د طالبانو او امریکا هوکړه که یو څوک د خپل اختیاره افغانستان له دریځه، د یوه پر ځان بسیا او افغان فکره افغانستان په انځور کې، د ملي گټو او تاریخي- سیاسي روائت له هینداړې ورته وکتل شي، نو د گران وطن د سیاسي خپلواکۍ او یوه ټولییز- افغان شموله افغانستان لپاره پکې ډېر څه لیدل کیږي.

دا ځکه چې طالبانو په دغه تاریخي هوکړه کې هرڅه د افغانستان، افغان انسان او د گران وطن د ویاړلي تاریخ لپاره غوښتي او هېڅ داسې بحث چې د گران وطن د آزادۍ او حرمت عزمت پکې مات او معامله شي د شخصي گټو او ډله ییز امتیاز په توگه نه تر سترگو کیږي.

د بېلگې په توگه، دغه هوکړه له سولې وروسته په افغانستان کې د تېر ۴۰ کلن کړکېچ ټولو کورنیو جهتونو او غاړو ته د دې زمینه برابروي او دا واک په لاس کې ورکوي چې د نظام په بڼه او د حکومت په ډول کې چې هر څه بدلون مومي، نو دا ټول څه به د یوه ټول اجماع ملي او سیاسي بحث له لارې چې بین الافغاني ډیالوگ دی، حل او فصل کیږي.

زما د مالوماتو له مخې، طالبانو په تېرو ۱۸ میاشتو کې یو بحث چې د امریکایي ځواکونو د بشپړ او بې قید او شرطه وتلو ترځنگ یې پرې ډېر ټینگار او مقاومت کاوه، هغه پر بین الافغاني خبرو اترو کې تر سولې وروسته افغانستان په افغاني کولو او په دې برخه کې د بهرنیانو د لاسوهنې مخنیوی او د تیر تاریخ د ترخو تجربو او په ملي سیاست کې د افغانانو له بیا بیا ماتېدو څخه د ځان او ولس ژغورنه وه.

ځکه موږ په تېر وروستي لږ تر لږه ۱۰۰ کلن تاریخي مزل کې څو ځله د نظام او حکومت په بحث کې د داسې ماتېدو او شړېدو شاهدانو یو چې د نه جبران په صورت کې یې پېړۍ پېړۍ د نرۍ او سیالانو د پرمختگ له کاروانه شاته کړو.

د بېلگې په توگه، په اماني واکمنۍ کې د مډرنیزم او دینداری ټکر، د ظاهر خان په دوره کې د ښار او کلي ټکر، په کمونیستي واکمنیو کې له ملي او اسلامي ارزښتونو سره له بهره را وارد شوی کمونیستي ایډیالوژي ټکر د مجاهدینو په واکمنۍ کې د واک د ویش په سر د تنظیمونو جگړې او په دې نږدې تاریخ کې له امریکایي یرغل سره سم د بُن د توافقاتو پر بنسټ د بهرنیانو د اشغالگرانه شتون په سیوري کې د یرغل د ملاتړو له لوري د سیاسي واک او ملي- ولسي برخلیک غصب چې پایله یې دوې لسیزې جگړه، د امریکایي یرغل دوام، د پردو د گټو لپاره افغان وژنه او د یوه ملت د شړېدو تر درشله د گډې سبا ماته شوې اوږده کیسه پرته ده.

**د افغان سولې په لار کې تازه او ممکن خنډونه**

د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې هوکړه او د ۱۴ میاشتو د ننه کې د دغه بهیر ورټولیدل له جگړې، وژنو، چاپو، شکنجو، بارودو او اورونو څخه ستړي ملت ته د اشغال د ختم، پر خپل برخلیک د واکمنېدو او د یو بل زغمونکي افغانستان هیلې ورکړې.

ولې په خواشینۍ سره وینو چې د افغان دریځ په عنوان کې امریکا گران وطن ته قصداً د سولې د هر ډول چانس پر وړاندې یو نیابتي خنډ او سرخوږی د افغان حکومت په نوم چې د پرله پسې نامشروع ټاکنو، سیاسي کمزوریو، لړزانده ملي جوړښت، فاسد دوام، په ټولنیزو او سیاسي نفاقونو کې ښکېل، د ولس له ادرسه منزوي او په ټوله کې د نیواک او تاړاک په وجود پورې تړلي داسې ناسور په میراث پرېښې چې په گران افغانستان کې د هر ډول باثباته سیاسي جوړجاړي مخالف او په ټوله کې د جگړې دوام ته یې کار ویلي.

دغه حکومت عنوانه کډوله وروسته له هغه افغان ولس ته په ناسور او د سولې پر وړاندې د دښمنیو، د سولې د سبوتاژ او د سولې په لار کې د خنډونو او ځنډونو د رامنځ ته کولو او د سولې د دښمنانو پر یو موټي محور او ادرس بدل شو، کله چې د پردو په ویټامینو راستر شوي، بدنام سیاسي او فیوډالي د حکومت په نوم راټول لړکۍ ولیدل چې په سوله کې ټوله گټه د بې وزله، جگړې ځپلي، محکوم، بې برخلیکه، د امریکایي وحشتونو تر تیغ لاندې او په ټوله کې د یرغل او تاړاک د مخالفینو چې یو ستر ولس دی، رسیږي او د دوی پای به د خدای، ملت او تاریخ په محکمه کې سیاسي زوال، د ملت له خزانې، بیت المال څخه د سوونو میلیونو ډالرو د چور کړېو شتمنیو حساب کتاب او په ټوله کې د تاریخ پر وړاندې ټیټ سري او خړ مخي وي، نو دوي پښې یې په یوه موزه کې کړې او د سولې د هر ممکن پرمختگ، احتمالي چانس او حتی د سولې په لار کې د سولې فعالانو د گواښلو، منزوي کولو، له وطن څخه د شړلو او حتی د ترور تر کچې له وحشتونو ډک کردارونه تر سره کړل.

د دغو خنډونو تازه بېلگه د طالب- امریکا تر هوکړې وروسته د ۵۰۰۰ طالب زندانیانو د خلاصولو بحث او د دې تر څنگ په بین الافغاني خبرو اترو کې د حکومت او سیاسي غاړو پر یو ټولشموله داسې پلاوي سلاه مشوره ده، چې وکولای شي د امریکا- طالبانو د هوکړې له مخې له سولې وروسته په افغانستان کې د جوړېدونکي نوي اسلامي حکومت پر میکانېزم او بڼې له طالبانو سره سلاه شي.

**د ۵۰۰۰ طالب بندیانو خلاصون او د افغان حکومت غرضي اهداف**

د ۵۰۰۰ طالب زندانیانو مسئله وروسته له هغه جنجالي شوه چې امریکا تر بین الافغاني مذاکراتو وړاندې د حسن نیت، دوه اړخیز اعتماد او د طالب اړخ د اونیز اوربند په بدل کې ژمنه وکړه چې د طالب خوا ۵۰۰۰ بندیان به خلاصوي او پاتې نور بندیان به هم د بین الافغاني خبرو اترو له پیل سره سم چې د مارچ لسمه ټاکل شوې وه د دریو میاشتو په جریان کې خلاصیږي.

ولې د افغان حکومت له لوري د طالبانو د دریځ خلاف دا هڅه چې ۵۰۰۰ طالب زندانیانو د یوه ځانگړي، مشروط او داسې ځنډني میکانیزم له لارې خلاص شي چې د ارگ ټیم وکولای شي په کابل کې روانه سیاسي بې ثباتي پرې هضم او په څو برخو کې لکه د مذاکراتي ټیم انحصار، د حکومت وجود د مشروع او اصلي افغان طرف په توگه پر طالبانو تپل هغه حکومت چې له ارگ سره پر تړلي دیوال یې ډاکتر عبدالله نه مني او تر دې ټولو مهم ډاکتر غني او ټیم یې هڅه کوي چې د زیات وخت په تر لاسه کولو سره د طالبانو او امریکا هوکړې دوام ته د بېلابېلو ترفندونو په کارولو او د نویو خنډونو په رامنځ ته کولو سره ضربه ورسوي.

**ټاکنیزې نانډرۍ، پر سوله د ارگ انحصار او ټول شموله مذاکراتي ټیم**

موږ په پیل کې د افغان ولس د یوه ټوله ییز دریځ پر بنسټ پر دې باور وو چې ټاکنې افغانان اختلاف ته بیایي، ټاکنې یوه پنځه کلنه جگړه حتمي کوي او ټاکنې د ولس د ارادې، غوښتنې او لومړیتوب سولې پر وړاندې تر ټولو جدي خنډ دی.

ولې دا ښکاره وه چې د ارگ ټیم خپل دوام په سوله ییزه ولسواکۍ کې نه وینې، سوله د خپل واک پر وړاندې خنډ گڼي چې پایله یې تاسې د افغان ولس له لوري د ټاکنو ټوله ییز تحریم او د ولس د نه گډون پایله بیا په ټاکنو کې یو بې شرمانه تقلب و، چې په پایله کې یې د ټاکنو پایلې په میاشتو، میاشتو وځنډېدلې او د یوه کاواکه، بې ثباته او د دوه سره حکومت پر ځای یې د دوو حکومتونو زیږیدل د یوې مطلقې سیاسي بې ثباتۍ او د قومي، ژبنیزو او سیمه ییزو ټکرونو تر کچې د افغان ټولنې وېشل کېدل دي.

دغه سیاسي بې ثباتي او د ډاکتر غني پر سولې د انحصار فکر د هغه څه امکانات خورا کم کړي کوم چې په افغان سوله کې د امریکا استازي زلمي خلیلزاد، چین او روسیې یې له طالبانو سره د یوه ټول شموله مذاکراتي ټیم په توگه یادوي.

همداوس داسې مهال چې د افغان حکومت ویاندویان له طالبانو سره سولې ته د ټول شموله ټیم د وروستي کېدو خبره کوي، مگر سیاسي گوندونه او جهتونه د ارگ دا خبره په کلکه ردوي او وایي چې له دوی سره تر دې دمه په دې اړوند هېڅ مشوره نه ده شوې او هغه څه چې ارگ وایي، هغه د افغانانو سترگو ته د خاورو ورشیندل، سیاسي لوبه، د سولې انحصار او سبوتاژ دي.

**پایله**

د افغان حکومت له دریځه د ارگ سیاسي لوبه، په څو جبهو کې د واک د دوام پر سر جگړې، د داعش په څېر له استخباراتي شبکو څخه د حکومتي ملاتړ گنگوسې او تر ټولو له گواښه ډک دا چې ولس باور لري چې افغان حکومت د سولې پر سبوتاژ او له سولې سره په دښمنۍ کې واقع دی، پر ولس د تکیې پر ځای پر بهرنیانو تکیه لري او د ۱۸ کلنو لاسته راوړنو، له ناجمهوري لارو جمهوریت او په غربي ډیموکراسۍ بې کچې تاکید او د افغان انسان له وینې، عزت او عزمت څخه دغه وارداتي او غیر افغاني پدیدو ته لومړیتوب ورکول هغه بحثونه دي چې ښیي د ارگ له لوري روانه کړې لوبه کې هېڅکله د ولس غم ته ځای نشته، د ولس له دریځ او اندېښنو څخه استازولي نه شي کولای او دا هرڅه چې د ملت په نوم روان دي، دا هسې د څو ورځو لپاره په واک کې د دې خلکو د پاتې کېدو لپاره د زوال د ورځو د غځانو پلمې او د ولس تېر ایستنه او له خپل برخلیک څخه پردي کول دي.

ځکه که د بندیانو خبره وي، نو افغان حکومت څو میاشتې وړاندې سلگونه هغه داعیشیان چې د ننگرهاریانو په وینو یې لاسونه سره وو او په دغه ولایت کې یې د نړیوال جنایي وحشت بېلابېل ریکارډونه مات کړي وو، د یوې عادي قومي جرگې له لارې یې پرته له کوم امنیتي تضمین، وېرې او د ټولنیز عدالت له بحثه پاکستان ته وسپارل.

مگر کله چې په گران وطن کې د ۴۰ کلن کړکېچ د پای ته رسېدو او سولې خبرې گرمې شي، افغان حکومت سرې کرښې کاږي، د بهرنیانو پر حضور تاکید کوي، خبره یې د ارزښتونو تر تعریفه ورسیږي، د جگړې ژبه یې شدیده شي، له طالبه د اړیکو سپیناوی غوښتل کیږي او پر بندیانو یې شرایط وضع کیږي.

په دې برخه کې هغه څه چې د افغان دریځ تر شا د امریکایي اهدافو تړاو دی، په دې برخه کې زموږ له طالبانو هم غوښتنه ده چې دوی د نړیوال مشروعیت او ولسي باور له اړخه په معقول دریځ کې دي، بناً اورکم دې دوامداره وساتي، له ولس او سیاستوالو سره د تعامل ژبه دې لا ډېره فعاله کړي او بین الافغاني خبرو اترو ته دې تر هغه نه ننوځي، تر کله چې عملاً امریکا او ملاتړې نړیواله ټولنه یې د فشار له لارې افغان حکومت بین الافغاني خبرو اترو ته له ننوتو مخکې عملي گامونه نه وي اوچت کړي.

# د افغانستان کړکیچ او د حل لارې چارې

لیکنه: سردار محمد همدرد

هېوادونه د تاریخ په اوږدو کې کله د عظمت او د امپراطوریو جوړولو پړاو ته برابرېږي، کله بیا له داسې ستونزو سره مخ کېږي، چې د تجزیې وېره یې وي. عمده علتونه یې بهرنۍ مداخله او په کور د ننه د نااهلو کسانو سیاسي واک وي. زموږ ګران هېواد له خورا یوې اوږدې تقریباً ۴۵ کلنې غمیزې څخه تېرېږي او اوس هم د جګړې او په کور د ننه له سختې بې ثباتۍ سره مخ یو. له همسایه وو څخه نیولې د نړۍ هر هېواد کولی شي چې په ډېرې آسانۍ سره زموږ په ګران هېواد کې مداخله وکړي. د دې تر څنګ، په کور د ننه لوی اکثریت سیاسیون مو نه له خدایه وېرېږي او نه له تاریخي پېغور څخه. زه همېشه په مجلسونو کې وایم چې د ملامتۍ ګوته باید بل چاته ونه نیسو، هر هېواد مکلف دی چې د خپلو ګټو لپاره کار وکړي. اصلاً په موږ کې ستونزه ده، موږ د وطن جوړونې استعداد نه لرو، موږ د مور وطن په نامه په اخلاقي قاموس کې څه نه پېژنو، مونږ د شخصي ګټو لپاره په لس ګونو د وطن ګټې هېڅ بولو. ټول په شخصي ګټو پسې ځو، همدا خبره ده چې ورځ تر بلې موږ پر داسې ناروغۍ اخته کېږو چې علاج یې ستونزمن کېږي.

ښه بېلګه یې تېره په اونۍ کې د ولسمشر اشرف غني او ډاکټر عبدالله له لورې په یوه ورځ د ریاست جمهوري د لوړې مراسم تر سره کول وه.

نه غواړم چې دلته اوږد بحث وکړم، هغه متل دی «که غوا توره ده، خو شیدې سپینې دي.» سلامت او ملامت ټولو ته معلوم دي، هر خارجي چې ښه کړي که یې بد کړي، د تاریخ حافظې ته سپارل کېږي.

زه وایم چې راځئ دا خارجي اړخ بېخي پرېږدو، موږ په حیث د مالک کومه لاسته راوړنه لرو؟ اوس غواړم چې د روان کړکېچ د حل لاره په لنډ ډول تشریح کړم، د اوسنۍ قضیې د حل لپاره یوازینۍ د حل لاره د یو بې طرفه حکومت جوړښت دی. اول دا خبره باید واضح کړو چې موږ په دوو حالتو کې یو، یا به وطن ژغورو او یا به داسې یو بحران ته بیا ور ګډېږو چې بیا به تري وتل ډېر ستونزمن وي. کله چې امریکا او ناټو د طالبانو حکومت ړنګ کړ، دوی یوازې د جنګ ستراتیژي جوړه کړه او ډېر په غرور یې په جنګ ټینګاروکړ، چې نتیجه یې د امریکایانو، ناټو او د افغانستان لپاره خرابه راووتله. اوس هم امریکا او ناټو مسوولیت لري چې په افغانستان کې باید په احتیاط قدم کېږدي. دوی په دې نه خلاصېږي چې بحران یوازې افغانانو ته پرېږدي او په ډېرې سادګۍ سره ووایي چې دا د افغانانو مسئله ده. دا سمه خبره ده چې افغانان تر هرچا ډېر مسوولیت لري، خو بدبختانه باید ووایو، واقعاً ملي ګټو ته ژمن افغانان اوس د افغانستان په سیاسي صحنه کې نه لیدل کېږي.

اوس ټول اړخونه مسوول دي په خاص ډول امریکا، ناټو او ګاونډیان چې په خپلو منفي ستراتېژیو کې دې د افغانستان په اړه تجدید نظر وکړي. اوس چې د سولې خبره ده، واقعاً دا فرصت دی او له دې فرصت څخه باید ګټه واخیستل شي. طالبانو او امریکایانو خپله ستونزه حل کړه، اوس د افغانستان د راتلونکي مسئله ده. یا به طالبانو ته د ګټونکي په حیث د افغانستان واګې ورکول کېږي، یا به طالبان په کور کېني.

وایي به چې موږ د بهرنیانو په مقابل کې وجنګېدلو، همدا حکومت دې مملکت وچلوي، یا به طالبان جمع حکومت ۵۰ په ۵۰ اول دوه اړخونه چې یوازې به طالبان او یا یوازې حکومت مملکت چلوي، چې په ضمن کې له ځان سره ډېرې ستونزې لري.

۵۰ په ۵۰ چلول هم ناممکن دي، د تېر ملي وحدت حکومت یې ښه بېلګه ده.

که رښتیا دنیا غواړي چې افغانستان له موجوده بحران څخه وژغوري، د اوسني حل لپاره یې یوازینۍ لاره بېطرفه حکومت دی.

داسې نه ده چې په دې هېواد کې ملي او با احساسه شخصیتونه نشته، که د واک له څوکۍ ناست چارواکي تېر شي او په دې وطن زړه وسوځوي، شته ډېر داسې کسان چې په موقت ډول دغه هېواد رهبري کړي او بیا د بین الافغاني خبرو له لارې په قانوني ډول واک بل چا ته ولېږدوي.

# کرونا وېروونکی ګواښ؛

## د زرګونو کډوالو له راتګ سره هممهاله د کرونا مثبتې پېښې په ډېرېدو دي

په هېواد کې د مخنیوي په برخه د حکومتي چارواکو له ژمنو سره سره، د کرونا مثبتې پېښې په ډېرېدو دي. د تېرې ورځې تر ماښام ناوخته په هېواد کې د کرونا یا کویډ-۱۹ ویروس ۱٦ مثبتې پېښې ثبت شوې دي. له دې ډلې ډېرې یې په هرات ولایت کې دي. د دې تر څنګ، د عامې روغتیا وزارت وایي چې تر پنځوسو ډېرې نورې مشکوکې پېښې له دوی سره ثبت شوې دي او معلومات به یې وروسته له خلکو سره شریک کړي. له دې سره هممهاله ولسمشر د سارک سازمان له غړو هېوادونو د همکارۍ غوښتنه کړې ده او پر ځانګړې کمېټه یې غږ کړی چې د خلکو په عامه پوهاوي کې جدي ګامونه اوچت کړي.




په هېواد کې څو اونۍ وړاندې د کرونا لومړنۍ مثبته پېښه ثبت شوه. دا پېښه په هرات کې ثبت شوه او ناروغ هم د ایران له قُم ولایت راستون شوی و. هغه مهال حکومت پرېکړه وکړه چې له ایران سره به پولې تړي، خو څو ورځې وروسته امنیت شورا بېرته د لارې د پرانیستلو خبره وکړه. له هغه مهال تر ننه لاره پرانیستې ده او هره ورځ زرګونه افغان کډوال له ایرانه افغانستان ته راستنېږي چې دلته یې د کرونا ویروس د خورولو وېره او اندېښنه هم ډېره کړې ده.

ولسمشر غني پرون د کرونا د ویروس د پراختیا او راتلونکو اقداماتو په تړاو د سارک سازمان د غړو هېوادونو له استازو سره د ویډیو کنفرانس له لارې خبرې وکړې. نوموړي په خپلو دې خبرو کې هم له ایران سره خلاصو پولو ته اشاره وکړه او په خبره یې، له دې لارې افغانستان ته ستر ګواښ متوجه دی، خو دوی یې د کابو کولو هڅه کوي. ده پر غړو هېوادونو غږ وکړ چې له یو بل سره په همکارۍ او همدا راز له یو بل سره د تجربو په شریکولو کولی شي د دغه ویروس د لا پراختیا مخه ونیسي.

له دې سره جوخت د هېواد د عامې روغتیا وزارت وایي چې تر دې دمه یې د کرونا ۱٦ مثبتې پېښې ثبت کړې دي او ناروغان یې تر جدي درملنې او مراقبت لاندې دي. د عامې روغتیا وزارت پر خلکو غږ کړی دی، چې د مشکوکو پېښو یا نښو نښانو د لیدو پر مهال نږدې روغتیایي مرکز ته مراجعه وکړي او په دې توګه د ځان او خپلو هېوادوالو ژوند خوندي کړي. بلخوا لا هم زرګونه کډوال له ایرانه افغانستان ته را روان دي. د هرات ولایت ځایي چارواکي او د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست سید حسین عالمي بلخي وایي چې هره ورځ تر لسو زرو پورې کډوال د هرات له لارې افغانستان ته راځي. د هرات ځایي چارواکو بیا تېره ورځ هم په دې برخه کې له مرکزي حکومت د مرستې غوښتنه وکړه.

د عامې روغتیا وزیر بیا ټینګار وکړ چې ټولې مرستې به له هرات ولایت او نورو زیانمنو ولایتونو سره شریکې کړي او په خبره یې، جدي اقدامات تر سره کوي څو د کرونا ویروس د پراختیا مخه ډب کړي. د بهرنیو چارو سرپرست وزیر هارون چخانسوري هم وویل چې ځینو هېوادونو د کرونا ویروس ضد مبارزه کې له افغانستان سره د همکارۍ ژمنه کړې ده. نوموړي د بېلګې په توګه د متحده عربي اماراتو نوم یاد کړی چې مرستې ته یې تیارې ښودلې دي.

بلخوا ولسمشر غني بیا تېره ورځ ناوخته د عامه اړیکو او ارتباطاتو د یوې ځانګړې کمېټې له جوړولو خبر ورکړی دی. د دې کمېټې مشري به د ولسمشر سلاکار او د ولسمشرۍ ماڼۍ د ارتباطاتو رییس وحید عمر کوي. په دې کمېټه کې د عامې روغتیا، اطلاعاتو او فرهنګ، حج او اوقافو، کورنیو چارو، ملي دفاع، کډوالو چارو، لوړو زده کړو، پوهنې او نورو وزارتونو استازي ګډون کوي. دوی به خلکو ته عامه پوهاوی ورکوي، په رسنیو کې به ولس ته معلومات ورکوي، غږیز او انځوریز پیغامونه به خپروي او هڅه به کوي چې د کرونا ویروس د وقایې، مخنیوي او معلوماتو په برخه کې فعال رول ادا کړي.

# راپورونه: په ایران کې د کرونا ویروس د قربانیانو شمېر له ۷۰۰ کسانو اوښتی

په ایران کې د کرونا یا کووېډ-۱۹ ویروس له کبله د مړو شویو کسانو شمېر تر ۷۰۰ اوښتی دی.

ایراني چارواکو خبرداری ورکړی چې د دغه هېواد روغتیایي مرکزونه د نورو ناروغانو د ساتنې او درملنې ظرفیت نه لري.

د ایران دولتي اژانس ایرنا تېره ورځ په تهران کې د کرونا پر ضد د مبارزې د چارو مشر علي رضا زالي خبرې را اخیستې چې ویلي یې دي: «که دا لړۍ دغسې په چټکۍ روانه وي، موږ به په کافي اندازه ظرفیت ونه لرو.»

په ورته وخت کې ځینې راپورونه وایي چې په ایران کې د دې ناروغۍ له کبله د بستر کسانو شمېر له ۱۱۰ زرو ډېر شوی چې له ۱۳ زرو ډېر کسان پرې اخته شوي دي.

د ایران روغتیایي چارواکو ویلي چې یوازې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې پر دې ناروغۍ اخته ۱۱۳ کسان وژل شوي چې ورسره سم په دغه هېواد کې د مړو شمېر ۷۲۴ ته رسېدلی دی.

بلخوا د ایران ولسمشر حسن روحاني ویلي، په هېواد کې یې د کرونا د پرمختګ پر ضد مبارزه ښه روانه ده، خو د امریکا بندیزونو د دوی کار له خنډ سره مخ کړی دی. د ده په خبره، دوی خپل اقدامات کوي، خو د لا ډېرو تلفاتو او مرګ ژوبلې مسووله به امریکا وي.

دغه راز اروپایي هېوادونو هم د دغه ویروس د خپرېدو د مخنیوي په موخه خپل تدابیر زیات کړي دي. د راپورونو له مخې، په اکثرو اروپایي هېوادونو کې ښوونځي، پوهنتونونه، پلورنځي او مارکېټونه بند شوي او په ایټالیا کې خو د دغه هېواد نږدې ټول ٦۰ میلیونه وګړي په قرنطین کې دي.

چارواکو ویلي، چې په ایټالیا کې په دغه ویروس د اخته کسانو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

ویل کېږي چې په دغه هېواد کې له ۲۱ زرو زیات خلک پر کرونا اخته شوي چې له دې ډلې شاخوا ۱۴۰۰ کسان تراوسه مړه شوي دي.

پر ایټالیا سربېره په اسپانیا، جرمني او فرانسه کې هم د دې ویروس د خپرېدو له کبله خلک سخت زیانمن شوي دي.

په اروپا کې د دې ناروغۍ له چټک خپراوي وروسته درې ورځې مخکې متحدایالتونو اروپایي هېوادونو ته پر الوتنو او سفر بندیز ولګاوه.




په امریکا کې د دې ناروغۍ د خپرېدو له کبله اندېښنې هومره زیاتې شوې چې سپینې ماڼۍ ته یې هم ټکان ورکړی او په نتیجه کې یې د جمعې په ورځ ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم د کرونا ویروس ازموینه وکړه چې پایله یې منفي وه.

## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واګې په لاس کې واخله!
### لومړی څپرکی




۱. قوانین بدل شوي دي!
موږ په ستونزمنو حالاتو کې اوسېږو. په تېرو څو کلو کې په امریکا کې د خبرونو په سرټکو، د مدیرانو په کنفراس خونو او ټولو کورونو کي وېره او دوامداره وارخطایي خپره ده. نړیوالتوب، له بهرنیو سرچینو څخه ګټه اخېستنه، د شرکتونو کوچني کول، د کورونو لیلام، د شرایطو خلاف خلکو ته ځایونه په کرایه ورکول، د اعتبار ستونزه، د وال سټریټ سقوط، اقتصادي تاوانونه او ... د ناوړه اقتصادي حالت خبرونه دي.
د (۲۰۰۹م) په لومړیو څو میاشتو کې هره میاشت ۲۵۰ زره خلک د امریکایي شرکتونو له لوري بېکاره شوي دي. د (۲۰۰۹م) په ورستیو کې ـ چې د دې کتاب په لیکلو لګیا یم ـ د بېکارۍ کچه ۱۰،۲ سلنه ده او لا زیاتېږي. تر بېکاره خلکو د هغو کچه زیاته ده چې دنده لري؛ خو تنخوا یې ورځ په ورځ کمېږي. له ځینو کسانو پرته نور ټول خلک د دندې د له لاسه ورکولو په ساري ناروغۍ اخته دي. له رییسانو او مدیرانو نیولې تر عادي کارګرو او کارمندانو، له بانکي مامورینو تر پلورونکو ټول له خطر سره مخ دي. ان روغتیایي صنعتونو ـ چې ډېر خوندي ګڼل کېدل ـ خپل کارکوونکي کم کړي دي.
په (۲۰۰۹م) کې د یو اس ای ټوډې په نظر پوښتنه کې ٦۰ سلنه امریکایان په دې باور وو چې نننی ناوړه اقتصادي حالت د دوی په ژوند کې خورا بحراني حالت دی.
د (۲۰۰۸م) په مني کې د زیاتو خلکو د تقاعد پانګو نیم یا تر هغه زیات ارزښت له لاسه ورکړ. د املاکو کاروبار په ځمکه ووهل شو. څه چې خلکو ته ثابت او د اعتبار وړ وو، ټول له منځه ولاړل. کاري مصئونیت او حفاظت له منځه ولاړ. هغه نظر پوښتنه چې په (۲۰۰۹م) کې د یو اس ای ټوډې لخوا شوې وه، ٦۰ سلنه امریکایان په دې باور وو چې اوسنی اقتصادي حالت د دوی په ژوند کې تر ټولو بحراني او ویروونکی حالت دی.
البته تاسو ټول پر دې پوهېږئ؛ خو ښايي پر دې خبر نه یاست چې نوې خبرې څه دي. اصلاً ستاسو ګټه په یوه ورځ له خطر سره نه مخ کېږي، بلکې هر وخت په خطر کې ده. یو لوی اقتصادي بحران او تاوان خلک د هغوی د ژوند خطر ته متوجه کړي دي.
په امریکا کې زیاتره خلک په کلو کلو د چړې پر تېره څوکه ژوند کوي. هغوی د بد حالت او د پیسو د ورکړې ترمنځ دي. هره میاشت د پیسو راتلونکي ښېل ته انتظار وي چې تحویل یې کړي.
د پیسو د ښېل مانا «ستا وخت په پیسو بدلېدل» او د لوېدلي اقتصاد په زمانه کې هغه تر ټولو لږه ګټه ده چې خلک وخت مصرفوي او دومره پیسې ګټي چې یوازې یې شپه پرې تېرېږي. سپما بیخي لږه یا هېڅ نه کوي. ولې؟ ځکه کله چې خلک بېکاره شي، نو ستا وخت په لږو پیسو حسابل کېږي. یانې په لږو پیسو کار درکول کېږي.
وګوره، درته ومې ویل
له کلونو چیغې وهم چې د محفوظې او ساتلې دندې په نوم هېڅ نشته. په خصوصي برخه کې کار کول د شلمې پېړۍ ډایناسور دی. د ښه راتلونکي یوازینۍ لاره د خپل راتلونکي په لاس کې اخیستل دي. په (۲۰۰۱م) کې مې په خپل کتاب « The Business School for people who like helping others» کې لیکلي:((زما په نظر امریکا او زیات لوېدیځ هیوادونه باید د یوه اقتصادي بحران په تمه واوسي. دا بحران زده کوونکو ته د ښو اقتصادي زده کړو د نه ورکولو پایله ده.))
په همدغه کال مې نایټینګېل کونانټ « Nightingale-Conant» ته په مرکه کې وویل:((که فکر کوې چې ګډه پانګونه او بسپنه به ستا لپاره وي، یا خپل ژوند د پلور د بازار پر ښکته او پورته کېدو عیاروې، نو پر خپل تقاعد لوبې کوې. زه نه وایم چې ګډې بسپنې «Mutual Funds» بدې دي؛ خو که د پلور بازار «Stock Market» پورته شي، بېرته راولوېږي او ته په دغه وخت کې د ۸۵ کلو یې، نو څه به وکړې؟ زه یوازې دا وایم چې دا هرڅه ثابت، ښه او محفوظ نه دي. زه پر خپل مالي راتلونکي لوبې نشم کولای. په نړۍ کې کله هم داسې نه دي شوي چې ټول خلک دې خپل تقاعد د پلور بازار ته په لاس ورکړي. دا لیونتوب دی. ایا ټولنیز خوندیتوب به تا وساتي؟ ))
د (۲۰۰۵م) په مارچ کې مې په یوه مرکه کې وویل:((د دارایۍ او ثروت تر ټولو لویه وړتیا په پیسو د هغو بدلېدل دي او تر ټولو لویه کمزوري یې هم همدا ده. موږ ټول پوهېږو چې د پلور پر بازار بحران را روان دی او موږ به بیا په ځمکه ووهي، موږ ولې داسې وکړو؟))
ښه، څه پېښ شول؟ یو بل قوي بحران راغلی او ډېرو خلکو خپلې سرمایې له لاسه ورکړې، ولې؟ ځکه موږ د خپلو عادتونو او ذهنیت په دام کې را ګیر وو او بلې خوا ته مو فکر نه کاوه.
په (۱۹۷۰م) کې د امریکا اقتصاد د کانګرس له اجازې پرته د سرو زرو له معیار (Gold Standard) څخه ووت. دې کار موږ ته لاره هواره کړه چې پرته له دې چې د پیسو د چاپ رښتیني، سخت او حقیقي ارزښت ته پام وکړو، دومره پیسې چاپ کړو چې زړه مو وي.
**دوام لري...**

# هند

حشمت الله نوري

هند د آسیا په جنوب کې د هند د سمندر د خلیج او د عربو د سمندرګي په څنډه کې د همالیا له غرونو څخه د هند تر سمندر پورې د شمالي عرض البلدونو د ۱۸- ۳۳ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ٦۹ - ۹۸ درجو په مینځ کې موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۱۲٦۴۴۵۷ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ اووم لوی هېواد دی.
د هند شمال ته بوتان، نیپال او چین دي، جنوب ته یې د هند سمندر، ختیځ ته یې د بنګال خلیج او بنګله دېش او لوېدیځ ته یې عربي سمندرګی پروت دی.
د هند ډېره خاوره د استوا کرښې په شمال کې پرته ده، له بلې خوا د هند له نیمایي زیاته خاوره په اوبو کې ایساره ده، له همدې امله د دغه هېواد هوا توده او لنده ده. د هند څلور فصله یو له بل سره ډېر توپیر لري، ژمی یې له ډسمبر څخه تر مارچ پورې دی. اپریل او مې میاشتې یې تود اقلیم لري او جون، جولای، اګست او سپټمبر یې باراني فصل دی.
دغه هېواد ته د داسې یوې ټاپووزمې په څېر چې شمال یې په وچه پورې تړلی دی، د ډېر وسعت له امله نیمه قاره وایي.
د دغه هېواد پلازمېنه د نوي ډېلي ښار دی او ټولټال څه باندې ۱.۳ میلیارد نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۳۹۵ کسان ژوند کوي.
د هند ۴۰ سلنه وګړي په ښارونو او پاتې ٦۰ سلنه هغه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.
هند د اداري ویش له پلوه پر ۲۸ ایالتونو او ۷ اتحادیو ویشل شوی دی. کلکته، ممبی، بنګلور، حیدرآباد، احمدآباد، کانپور او لګنهو جیپور یې مهم او لوی ښارونه دي.
د هند اساسي قانون په ۱۹۵۰ ز کال د جنوري په ۲٦ نافذ شوی، چې له مخې یې دغه هېواد غیر مذهبي ډیموکراټ او فدرالي جمهوریت لري. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر رم نات کووند او لومړی وزیر یې نریندرا مودي دی.
د دغه هېواد ولسمشر په ډېلي کې د ولسي جرګې، مشرانو جرګې او د ایالاتو د مقننه هیئت له خوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي. په دغه هېواد کې ولسمشر باید له ارد هندي او د ټاکنې په وخت کې ۳۵ کلن وي، که دا شرط پوره کړي، د بیا ټاکل کېدو حق هم لري. د ولسمشر صلاحیتونه یې دا دي: د ولسي جرګې ړنګول، د سترو ملکي او نظامي مامورینو ټاکل، د بهرنیو تړونونو منظورول او د سولې او جګړې اعلان.
په هند کې ولسمشر د پوځي قوتونو لوی قوماندان هم دی. د ولسمشر مرستیال د پارلمان د دواړو جرګو له خوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي.
د دغه هېواد لومړی وزیر د ولسمشر له خوا د ټاکنو د ګټونکي ګوند یا د ګوندونو د ائتلافه مشورې او موافقې د کابینې په جوړولو لاس پورې کوي. د هند کابینه ۱۷ وزیران او ۲۱۱ مشاور وزیران لري. د دغه هېواد کابینه باید له پارلمان څخه د اعتماد رایه واخلي.
د دغه هېواد پارلمان دوې جرګې لري، ولسي جرګه چې ۵۴۵ غړي لري، له دې جملې څخه ۵۴۳ کسان د خلکو په خوښه او دوه د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي. د هند د ولسي جرګې غړي پنځه کاله کار کوي. دویمه د مشرانو جرګه یا د ایالاتو شورا ده چې ۲۵۰ غړي لري. د ایالاتو د جرګې ۱۲ غړي د ولسمشر له خوا او په مستقیمه رایه د ایالاتو د پارلمان او د ایالاتو د جرګې له خوا د ټاکل شوو استازو په واسطه ټاکل کیږي او شپږ کاله کار کوي.
د دغه هېواد د قانون له مخې، د راجاسبا مشر د ولسمشر د مرستیالۍ دنده هم پرمخ بیایي. د هند د لوکسبا غړي باید لږ تر لږه ۲۵ کلن او د راجاسبا غړي ۳۵ کلن وي.
د هند د ایالتي حکومتونو نظام د مرکزي حکومت په څېر دی. هر ایالت یو والي لري او لومړی وزیر په ډیمکراټیکه توګه ټاکي.
د هند هر ایالت بېلابېلې د قانون جوړولو جرګې لري، خو ستر ایالتونه یې دوې جرګې لري. لومړۍ د قانون جوړولو جرګه او بله د ایالت ملي شورا. د هند د قضایي نظام په راس کې ستره محکمه، یو قاضي القضات او ۱۳ قاضیان لري چې ټول د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي.
د هند دولت د تېرې پېړۍ د نوییمې لسیزې په پیل کې پرېکړه وکړه چې د اقتصادي پرمختیا، پانګه‌ونو او کورنیو او بهرنیو پانګه‌والو ته د ډېرو اداري، قانوني او حقوقي آسانتیاوو د یقیني کولو لپاره پر خپلو تګلارو او قوانینو ژوره کتنه وکړه او نوي ګامونه یې اوچت کړل. له دې وروسته د هند اقتصادي پرمختګ ګړندی شو او دغه هېواد د آزاد بازار او دولتي اقتصاد پر مټ د نړۍ د ژر پرمختلونکو هېوادونو په کتار کې راغی. د همدې نویو تګلارو په رڼا کې دولت ځینې لوی صنعتي او خدماتي برخې پر خصوصي سکټور خرڅې کړې او په بهرنیو پانګونو یې کنټرول محدود کړ. د اقتصاد په برخه کې د هند د دولت د نویو تګلارو له امله له ۱۹۹۷ ز کال وروسته هند هر کال په منځنۍ توګه ۷ سلنه پرمختګ لري. په ۲۰۱۰ ز کال کې د هند د اقتصاد د ناخالص کورني تولید په جوړښت کې د خدماتو ونډه ۵۵ سلنه وه. په تېرو ۲۰ کلونو کې هند د خپلو ځوانانو په روزنه ډېره پانګه‌ونه کړې، اوس اوس دغه هېواد پنځه میلیونه داسې ځوانان لري چې په انګلیسي ژبه، د کمپیوټرونو د تولید او د کمپیوټري پروګرامونو د جوړولو متخصصین بلل کېږي او خپل هېواد ته له دې درکه ډېر عواید راوړي.
په ۲۰۱۰ ز کال کې هند له هغه بحران څخه راووت چې د امریکا او اروپایي هېوادونو په اقتصاد کې د بې نظمۍ له امله پیل شوی و. د هند حکومت هڅه کوي چې د خپلې بودجې کسر له پنځه سلنې ټیټ وساتي. په ۲۰۱۰ ز کال کې دغه کچه څه باندې شپږ سلنه وه. بې ساری اداري فساد چې خلک یې لاریونونو او تاوتریخوالي ته اړ ایستلي، د ټولنې د ټیټو طبقو بې وزلي او ځوروونکی فقر، د ټولنیزو او مالي بنسټونو کمزورتیا، په صنعتي سکټور کې د استخدام کموالی، پوهنې او لوړو زده کړو ته د ټولو خلکو نه لاسرسی او په ټولنه کې د پوره عدالت نشتوالی هغه ستونزې دي چې هند په راتلونکي کې ورسره مخ دی.
د دغه هېواد د ناخالص کورني تولید اندازه نږدې څلورو ټریلیونو ډالرو ته رسېږي. دغه راز د ناخالص کورني تولید کلنۍ وده یې ۷ سلنه ده، خو د سړي سرکلني عاید کچه یې څه باندې ۲۱۷۲ ډالره اټکل شوې ده.
ټوکران، جامې، خوراکي مواد، اوسپنه، پولاد، سیمنټ، زراعتي ماشینونه، کاغذ، ښیښه، کیمیاوي مواد، موټر، الوتکې، وسلې، اورګاډي، د کانونو استخراج، دارو درمل، طبي وسایل، طباعتي ماشینونه، لویې او وړې فابریکې، د برېښنا سامانونه، کمپیوټر او د کمپیوټر پروګرامونه د دغه هېواد په صنعت کې عمده ونډه لري.
د هند ۴۹ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده. دغه راز پاتې خاوره یې څړځایونو، ځنګلونو، غرونو، بېدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۵۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۲۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.
وریجې، غنم، تېل لرونکې دانې، پنبه، چای، اوربشې، ګنې، طبي بوټي، غوښه، لبنیات، هګۍ، شنه او سپین وابښه او داسې نور د دغه هېواد له مهمو کرنیزو تولیداتو څخه شمېرل کېږي.
وسپنه، د ډېرو سکاره چې په نړۍ کې څلور مقام لري، مالګه، بوکیست، سپین زر، فاسفیت، مس، سرپ، یورانیم، مایکا، تیتانیم، کرومایت، الماس، نفت او قیمتي کانې د دغه هېواد مهم کانونه دي.
امریکا، المان، چین، ایران، سعودي عربستان، عربي متحده امارات او اسټرالیا د دغه هېواد لوی تجارتي شریکان دي.
دغه هېواد څه باندې ۲۰۰ تجارتي غټې بېړۍ او ۳۵۵ هوایي ډګرونه لري چې ۲۵۰ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.
هند د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د آسیا او نړۍ یو پرمختلونکی هېواد دی. سره له دې چې د هند د هر وګړي منځنی کلنی عاید مناسب نه دی، خو عیني واقعیتونه وایي، دغه لوی آسیایي هېواد ښه پر مخ روان دی او په راتلونکي کې د یوه نړیوال ځواک په توګه راپورته کېدونکی دی.
په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۸۵ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهیږي. په هند کې زده کړه د ٦- ۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده.
هند له کال ۱۹۴۸ ز کال څخه مخکې د پاکستان د خاورې ځینې برخې هم په ځان کې حسابولې. دغه هېواد د نړۍ د پرمختللي تمدن یوه زانګو او د انسانانو د استوګنې له ډېرو لرغونو سیمو بلل کیږي او د یوه ډېر لرغوني تمدن د سسندهه په دره کې پیدا شوې سیمه ده. داسې اټکل کیږي چې هند ته د آریایانو لېږدېدل د سسندهه د تمدن له دورې څخه ۱۰۰۰ وروسته شوي او هلته د نژادي ګډون لومړني ګامونه اوچت شوي دي. له میلاد څخه ۱۴ پېړۍ مخکې د هند په جنوبي برخو کې د آریایانو د ورتګ له زیاتیدو سره جوخت پراخې کورنۍ جګړې وشوې. په را وروسته پېړیو کې پر آریایانو سربېره، نور قومونه هم د هند لویې خاورې ته و کوچېدل او هلته مېشت شول.
په ۱۹۴۷ ز کال کې انګلیسانو د هند خپلواکي او د مسلمانانو لپاره د پاکستان په نامه د یوه بل دولت جوړېدل ومنل. په هند کې د کنګرې او په پاکستان کې مسلم لیک ګوندونه واک ته ورسېدل.
افغانستان او هند یو له بل سره ډېرې تاریخي اړیکې لري. افغانستان په ۱۹۴۷ ز کال کې هند د یو خپلواک هېواد په توګه په رسمیت وپېژانده. په ډېلي کې د افغانستان لومړی سفیر نجیب الله و. د افغانستان او هندوستان مشرانو په تېرو څو لسیزو اړیکو کې یو د بل هېوادونو ته ډېر سفرونه کړي او د دواړو هېوادونو د خلکو او د ولسونو تر منځ یې د اړیکو د ټینګولو او ښه کولو لپاره هڅې کړې دي.
له افغانستان څخه تر هندوستان پورې د هوا له لارې فاصله ۱۸۴۹ کیلومتره او هدا راز د کابل او نوي ډېلي ښارونو تر مینځ د وخت توپیر یو ساعت دی.



## همیانی

# ستاسو کوچنۍ مرسته هم د یوه چا ژوند بدلولای شي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

پل بلوم وايي: «موږ اړمن موجودات یو. نو په دې اساس له فقیر سره کوچنۍ مرسته هم کولای شي د هغه او زموږ پر ژوند مثبت اغیز وکړي. یو ښه ژوند په دې جمله کې خلاصه کولای شو: ښه ژوند یاني تلپاتې اړیکې، په زړه پورې دنده او په ښکلو غونډو کې ګډون ته ویل کېږي.»

«سینتیا» چې تازه طب پوهنځی ته بریالۍ شوې وه، د اقتصادي ستونزو له کبله یې نه شوای کولی چې خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکړي. هغې له خپلو ټولو ملګرو او دوستانو سره اړیکه ونیوه، خو هر یوه پر خپل ځای ورته بهانه وکړه او ځانونه یې ترې تېر کړل. سینتیا به تل ژړل، مور او پلار یې بزګران وو، له ځان سره به یې ویل، زه په دې حالت په هېڅ صورت نه شم کولای لوړو زده کړو ته دوام ورکړم. هغې به د ورځې په ښار کې اناناس خرڅول. یوه ورځ ډېره پرېشانه له ښاره را روانه وه، نېږده وه چې یو موټر یې ووهي. چلوونکي موټر ودراوه او ورته وویل، ړنده یې؟ له سړکه چې اوړې ولې یوې او بلې خواته نه ګورې؟ سینتیا په ژړا له موټر چلوونکي ښښنه وغوښته. چلوونکی ډېر خپه شو، وویل ولې څه ستونزه لرې؟ نوموړې ټوله کیسه ورته وکړه وویل، طب ته بریالۍ شوې ده، خو دا چې مور او پلار یې بزګران دي، نه شي کولای په دې برخه کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي. له خپلوانو او دوستانو یې هم مرسته وغوښته خو چا یې لاسنیوی ونه کړ. موټر چلوونکی ډېر خپه شو، موټر ته یې لاړ او یو څه اندازه پیسې یې سینتیا ته ونیوې. سینتیا ډارېده، نو د پیسو له اخیستلو یې انکار وکړ. له ځان سره یې یې فکر وکړ، ولې یو بېګانه کس له ما سره مرسته وکړي؟ هسې نه په ذهن کې کومه کرغېړنه نقشه ونه لري. موټر چلوونکی هم وربادنې پوه شو. ځان یې ورته معرفي کړ او وویل له دې کار څخه یې موخه یوازې مرسته کول دي. پیسې یې ترې واخیستې، مننه یې ترې وکړه او د کور پخوا یې منډې کړل. اوس یې د پوهنتون خرڅ پیدا کړی و او په خوشالۍ یې زده کړې پیل کړې.




څو کاله وروسته یوه کس چې ترافیکي پېښه یې کړې وه، په ډېر بد وضعیت کې روغتون ته راوړل شو. بیړنۍ خونې ته یوړل شو او د درملنې لپاره یې یوه ډاکټره وګومارل شوه. ډاکټره هماغه سینتیا وه. دې چې کله ټپي کس ولید، نو پوه شوه چې دا خو هماغه کس دی چې د پوهنتون مصارف یې ورکړي وو. کس چې کله په هوښ راغی، له نرس څخه یې پوښتنه وکړه، په روغتون کې زما درملنه چا وکړه او د درملنې پیسې مې چا ورکړې دي؟ په دې وخت کې ډاکټره سینتیا را ننوته، ځان یې ورته معرفي کړ او وویل، زه هغه نجلۍ یم چې څو کاله مخکې ستاسو د مرستې په برکت وتوانېدم په طبي برخه کې خپلې لوړې زده کړې وکړي او اوس یوه تکړه ډاکټره یم. ډاکټرې د روغتون مالي برخې ته د یاد کس د درملنې ټول مصارف ورکړي وو او دا چې له کلونو وروسته یې هغه کس چې له دې سره یې په زده کړو کې مرسته کړې وه، ولید او ډېره خوشاله وه.

موږ هم باید له خلکو سره د دې لپاره مرسته ونه کړو، چې ګواکي یوه ورځ به یې جبران کړي او را وبه یې ګرځوي، موږ باید د دې لپاره ور سره مرسته وکړو چې ثواب وګټو. مینه هغه لورینې ته ویل کېږي چې ته یې له بل د ورکړې تمه ونه لرې. په خبرو کې مهرباني کول پر ځان د باور لوړېدو لامل کېږي. مهرباني په ذهن کې د ژور فکر کولو لامل کېږي، خو مهرباني په عمل کې بیا مینه زېږوي.

ستیو ناش وايي: «زه باوري یم چې د نړۍ د هر مذهب خلک مهرباني پېژني او باور پرې لري. زما په اند چې باید کوچني ګامونه واخلو او په ذهن کې لوی افکار ولرو. زما په اند د هر چا د ژوند د ارزښت کچه په دې پورې تړلې ده چې پر خلکو څومره اغیز لري.»

دغه څه ما هم زده کړی دي چې رښتینې خوښي هغه وخت احساسولی شې چې خلکو ته دې په یو ډول نه یو ډول خیر ورسېږي. کله چې له یو چا سره مرسته کوم یا مې خیر ورته رسېږي، دومره خوشاله کېږم چې پوښتنه یې مه کوی. زما په اند عشق او مینه هغه څه دي چې ټول یې په لټه کې دي او د لاسته راوړلو هڅه یې کوي. دا مینه وه چې زه یې د دغه کتاب لیکلو ته وهڅولم. دغه راز دا مینه ده چې تاسو او د دغه کتاب پر لوستلو بوخت یاست. ما تر اوسه داسې څوک نه دي لیدلي چې هغه دې پر یوه ښه کس بدل شي، خو مینه دغه کار کولای شي. زه له تاسو غواړم چې کله مو دغه کتاب ولوست، نو خپلو ملګرو او دوستانو ته یې ډالۍ کړئ، څو یې د تل لپاره په یاد وی. صدقه او مهرباني د لږو او کوچنیو شیانو او هغو شیانو چې په لاس کې یې لری او په وس مو پوره وي، پیل کړئ. که تاسو له یو چا سره کوچنۍ مرسته هم وکړی، دوی به یې هېڅکله هم هېره نه کړي.

---

## ارګ: که د تاوتریخوالي کمېدو اړوند تضمین ور نه کړل شي، طالب زندانیان نه خوشې کېږي

ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي، تر هغې چې د تاوتریخوالي کمېدو اړوند تضمین ور نه کړل شي، طالب زندانیان نه خوشې کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې طالبان له افغان حکومت سره د سولې مذاکراتو د پیل لپاره د خپلو پنځو زرو بندیانو خوشې کېدل یو مهم شرط یادوي، خو افغان حکومت د طالب بندیانود خوشې کېدو په بدل کې د تاوتریخوالي کمېدو اړوند د تضمین غوښتنه کړې ده.

په عامه اړیکو او ستراتېژیکو چارو کې د ولسمشر سلاکار وحید عمر ویلي: «موږ د بندیانو نوملړ په مخ کې لرو، زموږ په نظر ټول مهم مسایل به هغه مهال په تدریجي ډول مخ ته ولاړ شي چې د سولې خبرې او د طالبانو له لورې متقابل ضمانت موجود وي، موږ پنځه زره زندانیان نه خوشې کوو، تر هغه چې دا کار په تدریجي ډول او په مقابل کې زموږ او طالبانو تر منځ راکړه ورکړه تر سره شي.»



دا په داسې حال کې ده چې د لوړې له مراسمو وروسته ولسمشر غني د یوه فرمان په صادرولو سره ملي امنیت شورا ته امر وکړ، چې په تدریجي ډول د شنبې له ورځې راهیسې چې د کب میاشتې ۲۴مه کېږي، د طالب بندیانو د ازادېدو بهیر پیل کړي.

د دې فرمان پر بنسټ، باید د شنبې په ورځ د ۱۵۰۰ طالب بندیانو له ډلې ۱۰۰ ته یې د پروان له زندان څخه د عمر، روغتیایي وضعیت او د بند مودې ته په کتو خوشې شوي وای، خو اوس د ولسمشر غني سلاکار وايي، تر هغې چې د دوی له خوا وضع شوي شرایط عملي نه شي، طالب بندیان نه خوشې کېږي.

په ورته وخت کې بیا په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ازادي راډیو ته ویلي، د افغانانو د خپلمنځي خبرو د پیل لپاره د طالب بندیانو خوشې کېدل اړین دي.

هغه زیاته کړې: «د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره د طالب بندیانو خوشې کېدل اړین دي او دا ضرورت په تر سره شوې هوکړه کې منل شوی دی، باید د سولې پروسې د پرمختګ لپاره د دې قضیې ټول لوري عملي ګامونه واخلي.»

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا او طالبانو تر منځ د هوکړې پر بنسټ باید د بین الافغاني خبرو له پیل وړاندې، طالب بندیان خوشې شوي وای.

بلخوا د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي، د افغانستان حکومت او طالبانو د زندانیانو د تبادلې په اړه د دوی غوښتنو او پوښتنو ته لا هم ځواب نه دی ویلی.

---

## راپورونه: برېتانیا له افغانستانه خپل سلګونه سرتېري وباسي

د راپورونو له مخې، د طالبانو او امریکا تر منځ له شوي تړون وروسته برېتانیا غواړي چې له افغانستانه خپل سلګونه سرتېري وباسي.

د ټایمز په نوم برېتانوي ورځپاڼې د راپور په حواله، برېتانیا هڅه کوي چې په راتلونکو ۱۳۵ ورځو کې چې د جولای د میاشتې نیمایي ته رسېږي، خپل دېرش سلنه پوځیان له افغانستانه وباسي.

د سرچینې په حواله، دغه پوځیان به د امریکا له هغو ۴۴۰۰ پوځیانو سره هممهاله افغانستان پرېږدي، چې د شوې هوکړې پر بنسټ باید په لومړیو څلور نیمو میاشتو کې له دغه هېوادو ووځي.



د راپور پر بنسټ، د پاتې پوځیانو وتل به د طالبانو او امریکا تر منځ د شوي تړون له عملي کېدو سره مشروط وي او بیا به یې په اړه پرېکړه کېږي.

د یادونې ده چې برېتانیا اوسمهال په افغانستان کې ۱۱۰۰ سرتېري لري، چې زیاتره یې د کابل ولایت شاوخوا پراته دي او یوه وړه برخه یې په هلمند ولایت کې ماموریت ترسره کوي. د راپورونو له مخې، د افغانستان په نږدې دوې لسیزې جګړه کې تر دې دمه ۴۵٦ برېتانوي پوځیان وژل شوي او تر ۲۰۰۰ زیات ټپیان شوي دي.

د قطر په پلازمېنه دوحه کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې یوه مهمه ماده دا وه چې د هوکړې له لاسلیک وروسته به په ۱۴ میاشتو کې له افغانستانه ټول بهرني ځواکونه وځي.

---

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵،۹۵ |
| € | ۸۳،۴۰ |
| Rp. | ٤۸٥ |
| ₹ | ۱۰۱۰ |
| ¥ | ۱۰،۹۰ |
| £ | ۹۲ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily



وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



دوشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲۶مه | د ۲۰۲۰ د مارچ ۱۶مه | ۵۳۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۲۲ | ۲٤ | ۲٦ | ۲۳ | ۲۰ |
| ۵ | ۱۱ | ۱۱ | ۱٤ | ۱۲ | ۱۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۰ | لمر ختل ۰٦:۰۳ | ماسپښین ۱۲:۰۳ | مازیګر ۰۳:۲۷ | ماښام ۰٦:۰۲ | ماخوستن ۰۷:۲٦

## مشرانو جرګه: تنش ها میان سیاسیون پروسهٔ صلح را صدمه میزند



برخی اعضای مشرانو جرگه از تشکیل دو حکومت نگرانی کرده و به منظور رفع اختلافات میان غنی و عبدالله، خواستار تشکیل هیئتی در چوکات هر دو مجلس شورای ملی شدند.

محمد نادر بلوچ عضو مشرانو جرگه که دیروز در جلسهٔ این جرگه صحبت می کرد، گفت که در ۱۸ سال گذشته میلیون ها افغان به دلیل کم توجهی رهبران کشته و زخمی شده اند.

وی با اشاره به تنش ها میان سیاسیون کشور، علاوه کرد: «سیاسیون دچار مریضی روانی اند، امید که واکسینی برای شان پیدا شود تا مشکل، حل و مردم از وضعیت جاری در کشور نجات یابند.»

موصوف، با نگرانی از شیوع ویروس کرونا در افغانستان گفت که وضعیت سیاسی جاری در کشور، مرض کرونا را نیز تحت شعاع قرار داده و توجه جدی به آن مبذول نشده است.

عبدالله قرلق منشی مشرانو جرگه نیز در جلسه دیروز گفت که وضعیت جاری سیاسی در کشور، برای هیچکس قابل قبول نیست و ادامه وضعیت، فاجعه بار است و پروسه صلح را شدیداً صدمه می زند.

او تصریح کرد: «تقابل پیش آمده میان سیاسیون کشور، باید پایان یابد؛ در غیر آن زیان و ضرر آن را مردم می بینند؛ امید که هیئتی از سوی هر دو مجلس شورای ملی، به منظور فروکش وضعیت توظیف شود.»

گل احمد اعظمی عضو دیگر مشرانو جرگه، از افزایش ویروس کرونا در افغانستان نگرانی کرده و از سیاسیون کشور خواست که تعصبات و جاه طلبی ها را کنار بگذارند و از موضع قوی به طرف مذاکرات بین الافغانی بروند.

## نړۍ



## راپورونه: په ایران کې د کرونا ویروس د قربانیانو شمېر له ۷۰۰ کسانو اوښتی

۳

## راپورونه: د امریکا پوځ عراق ته تازه دمي ځانګړي ځواکونه استوي

د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، امریکا عراق ته تازه دمي سرتېري لېږي. د عراق پوځ د یوه چارواکي د نوم نه ښودو په شرط فارس خبري اژانس ته ویلي، چې امریکایي پوځ د ځانګړو هوایي ځواکونو دغه ډله چې «د غرونو بازان» نومېږي، د یوې خصوصي امنیتي کمپنۍ پر ځای په عراق کې ځای پر ځای کېږي.

هغه ویلي چې دغه سرتېري بغداد ته نږدې په هغه اډه کې ځای پر ځای کېږي، چې تر دې وړاندې پکې د یوې خصوصي امنیتي کمپنۍ سرتېري مېشت وو.

سرچینې ویلي چې امریکا وروسته له هغې دا اقدام کړی چې په دې وروستیو کې د عراق پلازمېنې بغداد ته نږدې د امریکا او نړیوال ائتلاف پر پوځي اډو توغندیز بریدونه ډېر شوي دي.

د یادونې ده چې «د غرونو بازان» یا ۱۰۱ ټولی د امریکا د هوایي پوځ هغه ډله ده چې په ډېرو مهمو او سختو عملیاتو کې ترې کار اخیستل کېږي.

چارواکو ویلي چې امریکا تر دې وړاندې پر عراق د برید په لومړیو کلونو کې هم دغه ډله یاد هېواد ته استولې وه چې پر ډېرو جنګي جنایتونو هم تورنه ده.

## ملګري ملتونه: په سوریه کې روانې جګړې ټولې ډیپلوماټیکې هڅې ناکامې کړې دي



د سوریې لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ګیر پدرسن ویلي، په سوریه کې روانو جګړو او نښتو د دغه هېواد د کړکېچ لپاره ټولې ډیپلوماټیکې هڅې ناکامې کړې دي.

هغه تېره ورځ د سوریې د جګړې د لسم کال د پوره کېدو په تړاو په یوه اعلامیه کې ویلي: «د سوریې د جګړې لس کاله پوره شول، خو لاهم د دغه هېواد خلک له دغه کړکېچ نه دي راوتلي. په سلګونو زره سوري وګړي ووژل شول، په زرګونو بشري جنایتونه وشول، خو لا هم د دې جګړې د پای ځرک نه لیدل کېږي.»


پدرسن ویلي چې د سوریې جګړه یوې نوې مرحلې ته ننوتې، چې که له پوره غور څخه پکې کار وانه خیستل شي، ښایي روان کړکېچ نور هم اوږد شي.

هغه زیاته کړې چې د سوریې د جګړې د پای ته رسېدو لپاره باید ښکېلې غاړې او نړیوال باید یوې سیاسي اجماع ته ورسېږي. هغه یوځل بیا د جګړې پر ښکېلو اړخونو غږ وکړ چې په ادلیب کې اوربند ته دوام ورکړي.

د یادونې ده چې د سوریې د جګړې له پیل راهیسې تر دې دمه په سلګونو زره کسان وژل شوي او په میلیونونو نور کډوال شوي دي.

## ژوند

## له ځانه تر کچې زیاته تمه مه کوئ



که غواړئ چې یو نوی کار تر سره کړئ، خو په دې برخه کې کافي تجربه نه لرئ، که هر څومره هڅه هم وکړئ بیا به هم له دې کاره د پام وړ لاسته راوړنه ونه لرئ. دا د اندېښنې وړ خبره نه ده، ځکه هېڅوک هم په لومړي سر کې مسلکي عمل نه شي کولای. له «هېڅ» نه لړ ګټه هم ښه ده. په راتلونکې کې باید له دې څخه زیاته تمه ولرئ. داسې فکر وکړئ چې د ډېرو لویو کارونو لپاره مو مهالوېش او پروګرام جوړ کړی، خو تر اوسه لاس پکار شوي نه یاست. ډېری مخکې له دې چې کوم کار پیل کړي، په اړه یې زیاته اندېښنه کوي، دوی داسې فکر کوي چې پر وړاندې یې د ستونزو یو دیوال پروت دی، خو که په دې بریالی شو چې کار یې پیل کړ او لاره یې پکې ومونده، نو پاتې کار به په ډېره لېوالتیا سره تر سره کړي.

## د بدن دفاعي ځواک څه ډول پیاوړی کړو؟



که مو د بدن دفاعي ځواک پیاوړی وي، نو له ډېری ناروغیو به په امن کې وی. خو کله چې یو میکروب ستاسو بدن ته ننوځي او ناروغ کېږئ، په دې مانا ده چې ستاسو د بدن دفاعي ځواک ماتې خوړلې ده. خو ایا په دې چاره کې دخالت کېدای شي؟ غذایي رژیم ور باندې اغېز لري؟ او ایا د بدن دفاعي ځواک د ژوند په بڼې پورې هم اړه لري؟ که څه هم د بدن دفاعي ځواک یوه وسوسه پاروونکې مسئله ده، خو بیا هم ځینې لارې چارې شته چې کولای شی پر مټ یې د خپل بدن دفاعي ځواک پیاوړی کړئ. په دې برخه کې تر ټولو لومړی کار د ژوند بڼه ده. د سګریټو نه څکول، په غذایي رژیم کې د مېوو، سبزیو، غله‌جاتو او په لړ اندازه اشباع شوي غوړ کارول هغه څه دي چې د ناروغیو پر وړاندې ستاسو د بدن مقاومت لوړوي. کافي خوب، ورزش، مناسب وزن، د و ینې د فشار کنټرول او د الکولي موادو نه څښل هم په دې برخه کې خپل ځانګړی رول لري.




## ماستر ډېبټ کارت

د عزیزي بانک ماستر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank